# Pakhtoonkhwa پښتونخوا

## دپښتنو ټولنيز ولسوليز ګوند خپرونه

## ۱۰ مه ګڼه ۱۹۹۲ کال

Jahrgang./Vol.:1992 /6 Nummer/No.: 10

**PASCHTUNCHWA / PASHTOONKHWA**

**ORGAN DER SOZIALDEMOKRATISCHEN PARTEI DER PASCHTUNEN**

**ORGAN OF THE PASHTOONS SOCIAL DEMOCRATIC PARTY (PSDP)**

www.pashtoonkhwa.com
pashtoonkhwa@gmail.com
psdp@gmx.net

**V. I. S.P. / RESPONSSIBLE FOR CONTENTS:**
DR. KABIR STORI
HÖNINGER WEG 63
5000 KÖLN 51 WEST GERMANY

**Editorial Board/Redaktion**
ALI KHAN MASEED
HIDAYAT BANGASH
MUBARIZ SAPI
GULGHUTAI KUNARAI




# پښتونخوا

د پښتنو دېموکراټیزو اولسولیزو گوند خپرونه

ټوک ۶ گڼه ۱۰

مارچ ۱۹۹۲

JAHRG./ VOL. 1992 /6 Nr./No 10

# PASCHTOONCHWA
# PASHTOONKHWA

ORGAN DER SOZIALDEMOKRATISCHEN PARTEI DER PASCHTUNEN

ORGAN OF THE PASHTOONS SOCIAL DEMOCRATIC PARTY

**PSDP**

لیکوونکي او سرلیکونه


| | |
|---|---|
| سرلیکونه | مخ |
| پوهاند محمد قاسم جمدر<br>افغانستان د جنگ د لمبو او سیاسي حل په منځ کښې | ۱ |
| ستوری<br>د سمت برخي فلسفه | ٤ |
| علیخان محسود<br>د خان عبالولی خان شخصیت ته لنډه کتنه | ٥ |
| امین کونړی<br>د تاریخ جبر | ۱۱ |
| د گروال حضرت رسول<br>توره خیره | ۱۲ |
| ملاتړ | ۱۷ |
| شیریندل کامران گردیوال<br>په ملي ادب او ادبیاتو باندې د شوروي او پښتون اغیزې | ۱۸ |
| عزیزرحمان سرشار (خبریال)<br>د پښتنو د تولنیزا ولسولیزگوند د مشرد سلاکار عطا محمد<br>شیرزی سره مرکه | ۲۱ |
| صالح محمد زیری<br>د کابل د خرخي پل د جیل نه راغلی لیک | ۲٥ |
| غني خان<br>پوښتنه | ۳۰ |
| محمد شیرین گردیوال ـ رحمت شا سائل<br>پیغامونه | ۳۱ |
| همایون زماني (خبریال)<br>نوي زړی | ۳۳ |
| د افغانستان د لانجي د سوله ایز حل نوښت | ۳۸ |
| یادونه | ۳۹ |



خپرونکی: د پښتنو تولنیز اولسولیز گوند
پښتونخوا / افغانستان

HERAUSGEBER: SOZIALDEMOKRATISCHE PARTEI DER PASCHTOONEN
PASCHTOONCHWA / AFGHANISTAN

PUBLISHER: PASHTOONS SOCIAL DEMOCRATIC PARTY
PASHTOONKHWA / AFGHANISTAN



زمه وار:
V. I. S. P.:
RESPONSSIBLE FOR CONTENTS:

دوکتور کبیر ستوری
DR. KABIR STORI
HÖNINGER WEG 63
5000 KÖLN 51
WEST GERMANY
TEL. (0221) 3602472



د خپروني جرگه
REDAKTION
EDITORS BOARD

ALI KHAN MAHSOOD علیخان محسود
HIDAYAT BANGASH هدایت بنگش
MUBARIZ SAPI مبارز ساپی
GUL GHUTAI KUNARAI گل غوټۍ کونړی

# افغانستان د جنګ د لمبو او سیاسي حل په منځ کښې

«پوهاند داکتر محمد قاسم جمدر»

افغانستان د جنګ د لمبو او سیاسی حل په منځ کی

داچه څه رنګه افغانستان د کمو نیزم د حملو له لاندی راغی او څرنګه لاس پوڅی حکو متونه په وروستیو دوو لسیزو کی په افغانانو وتپل شو ملی او بیطرفو نړیوالو مطبو عاتو په کافـــی اندازه خپرونی پری کړی دی د وخت د معتبر افغانی او ـ نړیوالو سیاستمدارانو او سیاست پوهانو نظریات په دغو خپرونـــو کی په ځلانده تو ګه ځیرل شوی دی اما د افغان ولـــس د بدبختی او تباهی جګړه همداسی په خپل شدت سره روانـــه ده د کابل د ګو ډاګی حکو مت د ملی روغی جوړی ډرنامی لـــکه چه د دغه حکومت د جنګی اعمالو څخه لا ښخوا څرګنده وه یو تش په نامه خو ب او خیال دی او ؤ په وروستیو وختـــو کی د ملګـــرو ملتو پنځه فقره ئیزه وراندیـــز د ډیرو سیاسی تو لنو او پو هانو له خوا نه د نظر یا تو په ترځ کی دیو افغان د خلکو د نماینده حکو مت د مینځ ته را تګ په ارتباط تحلیل او ارزیابی شوی دی‌او حتا ځینو پکی د هغی دتا ٔمیلدو لپاره وراندیزونه هم کړی دی خو اور لا هم هغسی بل دی او خلك پکی سوځی یوی خواته اوس د سیا سی حل خبری تودی دی او بل اړخ ته جګړه د سکاټ د نوو تو غندیو په وشتلوسره خپله دغضب او غسی ځیره نوره پسی هم را ښکاره کوی اســـه د سیا سی حل لپاره د دغو وسلو د ویشتلو سره سم پدغـــه



غیر عادلانه جګړه کی چه یو پلو ته ئی افغان ولس او بلی خواته ئی د کابل مزدور حکو مت دی‌د نړیوالو په سیاسی کړیو کـــــی په هم هغه ثا بت محیط باندی ګرځی را ګرځی‌او یو مشخص لور ئی لا تر او سه ندی غوره کړی ښتانه وائی ځکه هغه سوځی چه اور پری بل وی. نړی وال طاقتو نه کله چه یو بل سره پملیدو شی نو سیا سی ډلی ټپلی بیا یو ځل خپل سو چونه سرهوجنګوی خو غټ طا قتونه لکه څرنګه چه شائی په خپلو منځو نوکی ددغی جګړی توافق لا ندی کړی ممکن که دغه جګړه غلی شی نو پـــه او سنیو حالاتو کی به سیا سی تعادل پسی لا څه خراب شـــی کله داسی فکر هم کیږی چه تر څو د رو سانو سیا سی او اقتصادی بدلونونه د ملك په داخل کی خپله راتلو نکی په ځلانده ونښی نو تر هغه به افغانان همداسی د جنګ د اور او سیاسی حـــل د سورو نارو په منځ کی و ساتل شی داسی بریښی چه‌دافغانانو تر منځ د اعتماد او کشیناستو او جرګو باور هم د کابل د حکومت د قو می او جنګی‌او فرهنګی غلطی پا لیسۍ له کبله بیخی له منځه تللی دی ځکه چه د دغه حکو مت پالیسی د پردیو د مغزو ـ محصول دی خو یوازی د ځینو افغانانو په خوله را وځی نـــو داسی بریښی چه د ټولو افغانانو د یوی نماینده جرګی راغوښتل یو څه ګران کار دی خو بیاهم دا کار باید وشی ځکه تر څـــو افغانان په خپلو کی سره سلا ٔ نشی نو بیا خو سیاسی حل هیڅ کو مه معنی نه افاده کوی په پیښور کی د تنظیمی مشرانو او ـ قو ماندانانو دریځ نیولی دی‌او هغه دا چه د کابل اوسنی حکومت



تش په نامه مشر سره د خبـــرو امکانات نشتـــه خو د کابل‌دحکومت دریځ په خیالی روغی جوړی کی ډوب دی افغانان د روغی جوړی په وراند ـ بینو کی تل مینځه ګری قدرت ته ګوری او دهغه درست او صحیح قضاوت ته دا چه په خوله سوله ووائی او په عمل کـــی د ولس د ډارولو او ځورولو پالیسی و مخ ته بو تلل شی نو ښکاره ده چه هدف دلته سوله نه بلکه د قدرت ساتل دی دغـــــه د قدرت ساتلو ته کله کله د کابل ګوډاګی حکومت د قدرت‌شریکول وائی چه دا شراکت په حقیقت کی د افغان ولس د راتلو نکـــی نماینده حکو مت پر ځد یوه بله د سیسه بلل کیدای شی ځکـــه څه د قدرت ویش او شراکت خو د کابل حکومت لا دخپل سنګرپخوانو ملګرو سره ونګړ په سلهاوئی مړه او په زرهاووئی نور دملك څخـــه وشړل نو څرنګه د کابل د حکو مت په اصطلاح‌د اپوزیسیون‌ســـره ممکن کیدای شی .

خیر داسی هم نده چه جګړه د سیاسی خبرو له لاری بندیدای نشی دا کار کیدای شی لکه چه متل دی دخلکو زور د خدای‌زور دی خو چه دا خلك لمړی په هدف پوه وی زه پدی عقیده یم کله چه خلك وغواړی نو بیا سوله ټینګولی شی خو داهم دچا سره د سولی سوال مطرح کیږی . دکابل د اوسنی حکومت سره خـــو دا امکان پنځه کلنی عملی تجربی وخود چه ممکن ندی نو اوس باید وکتل شی چه د افغانستان خلك د کابل د حکو مت نومول شوی تیپ سوله غواړی چه په هغی کی بیا هم هرڅه ددغه یو خو کسو



لاسکینولو له پارهوی او یاداچه خلك سوله د خپل نماینده حکومت په انتخابیدوسره غواړی په ملك کی را ولی ددی‌هدف لپاره لمړی دا په کاردی چه د ملګرو ملتو د وراندیـــز په عملی کو لو سره لمړی هغه سیاسی نظامی افغانی قوتو نـــه بی له کابل څخه چه دغه وراندیځ منی سره سلا شی او دا و منی چه ربښتیا هم نور پسی هم خرابیږو اوسوله بایدراولو او بیا دغه سیا سی نظا می طاقت د ملګرو ملتو دوراندیز د عملی کیدو په خاطر د کو ځو پښتنو د نماینده ناظـــــر او بیطرفو مشرانو په ګډون د سولـی‌د راوستلو په خاطر د سوله‌ایز هدف په لور ګامو نه واخلی. ددی نه په غیـــر د نورو خولو ته ګتل ببـــه دا معنی ولری چه اوس به بابا غوښی ډوډ ی راوړی .

د سمـــت برخی فلسفـــه

هریـــو سمـــت زیات دی خـــپلو بـــرخـــو مجـــمـــوعـــه نده
جـــو ړه درباب دخـــو غـــز ونـــو نه نغمـــه نده
ز ه خو دا نغـــمـــه پـــه ارمـــو نیه کښـــی هم وهـــلی شم
هم ئی د ســـیتار بم زیر پرد وکښی ارولـــــی شـــم
هم ئـــی پـــه شپیـــلی او ســـو رنـــی کښی غـــزولـــی شم
داخـــو دســـیتـــار پنځـــو تـــارونـــو زمـــزمـــه نده
دادســـمـــت بـــرخـــی قانـــون تول ژوند کښی چـــلـــیږی
ډله هم دخـــپـــلو غـــړ و شمـــیر ځینی زیـــا تـــیږ ی
تش دخـــو کسانـــو غـــو نـــد ه ډلـــه نـــه نـــو مـــیـــږی
داد ســـمـــت برخـــی فلسفـــه ده سفســـتـــه نـــد ه
" ســـتـــو ر ی "

لیکونکی: علیخان محسود

# دخان عبدالولی خان شخصیت ته لنډه کتنه

هسی خو ولی خان داسی شخصیت دی چی دتعارف محتاج ندی. مگر روایتی طریقه ده چی زمٔی هم پلوی کوم. دی یوانټرنیشنل لیډر دی



خان بابا ولی خان

ښاغلی خان په یوولسم د جنوری ۱۹۱۷ ع کال کښی دفخرافغان باچاخان کورکښی وځیزیدو. ده خپل ابتدائی تعلیم د باچاخان دلاس جوړ شوی ازاد هائی سکول نه شروع کړ. دی په ۱۹۲۲ ع کال کښی د دې سکول په اولنی شاگردانو کښی و. نور تعلیم ئی هندوستان کښی کړیدی. په ۱۹۳۳ کښی په سترگوکښی درد شروع شو. ددې په وجه نوراعلی تعلیم پاتی شو. دی دیوی سیاسی کورنی نه تعلق لری. نوځکه دماشوموالی نه دسیاست دسرو



تودو سره بلد شو ددوی مور ډیره په ځوانی کښی وفات شوی وه او والد صاحب ئی اکثراٴ د پیرنگسی بندی وو نو ولی خان او غنی خان د نیا او نیکه تر سیوری لاندی وو. دوی د نورو ماشومانو غوندی د مور او پلار سره لوی نشول ولی خان خپل سیاسی ژوند باقاعده د ۱۹٤۲ نه شروع کړو او ۱۹٤۳ کی ئی اول ځل دپاره د خپل پلار په شان دوطن د ازادی گټلو په لړ کی د پرنگی بندی شو. دوی خدائی خدمتگار تحریک کی ډیر سرگرم وو چه څه وخت پرنگیانو هند تقسیم کړو نو ډ ی سی پرنگیانو یعنی پاکستانیانو ۱۹٤۸ کی ولی خان جیل ته ولیږلو او چه څه جرم ثابت نشو نو پاکستانی حکو مت مجبور شو چه دوی ازاد کړی. چه څه وخت ۱۹٥۷ ( NAP ) نیشنل عوامی گوند جوړ شو او بنگالی مولانا بهاشانی ئی صدر شو نو ولی خان ددی گو ند یو عام غړی وو په ټول پاکستان کی نیشنل عوامی گوند یوانځینی جمهوری گوند وو چه دوی د جمهوریت اولسی ژبانی سیا سی قومی او اقتصادی حقو قودگټلو دپاره مبارزه کوله پدی گوند کی د قومپرستونه راواخله تر کمو نیستانو پوری را غونډ شوی وو چه څوخت د روس او چین اختلافات زیاد شو نو نیشنل عوامی پارتی هم تقسیم شوه . مولانا بها شانی د چین او صدر —



ایوب خان طرفداری وکړه او دوی مائو ئیستان شول — پښتانه، سندیان او بلو چان قومپرست خلك ددوی نه جدا شول د دسمبر ۱۹٦٤ کی باچا خان د علاج په غرض د وطن نه بهر وو نو ایوب خان خوشحاله وو چه نیشنل عوامی پارتی می ختمه کړه مگر نیشنل عوامی پارتی ددی درز نه ډیر ژر ځان سمبال کړو د دسمبر۱۹٦۷ کی دوی د ټول پاکستان د گوند اجلاس پیښور ائیل هوټل کښی وکړو چه بنگالی مشهور لیډر ښاغلی مظفر دنشنل عوامی پارتی دصدارت د پاره د ولی خان نوم وړاندی کړو او ټو لو په خوشحالۍ سره ولی خان د نیشنل عوامی پارتی خوښ کړو. دغه اول ځل وو چه دوی ذمه واری په سر واخیسته پدی باندی د ایوب خان په حکو مت زلزله راغله ددوی خیال وو چه باچا خان کابل کی دی او نیشنل عوامی پارتی تقسیم ده مگر د ولی خان داول تقریر نه ثا بته شوه چه د پښتو نولی دغه متل سم دی چه ( دباز دجالی نه باز الوزی ) پدی وخت پا کستان کی جنرال ایوب خان — دبدبه وه چه چا پر نشو خوځولی مگر ولی خان تر مشرگرۍ لاندی د نشنل عوامی پارتۍایوب خان ته ور لاندی وته چه د جنوری ۱۹٦۸ نه تر اکتو بر ۱۹٦۸ پوری نیشنل عوامی پارتی د ولی خان تر مشر گرۍ لاندی د ایوب خان کلك حکو مت په ځل با ندی زلزله راوستله .



اکتوبر ۱۹٦۸ کی ایوب خان پیښور جناح باغ کی دنیشنل عوامی پارتی خلاف یوه لو یه سرکاری جلسه جوړه کړه چه څه وخت ایوب خان تقریر ته پاخیدلو نو دپښتون شتودنټ فدریشن یو غړی چه هاشم خان نو میده په ایوب خان د تپانچی ډزی و کړی ایوب خان بچ شو مگر سیاسی روب ئی لاړو نو حکو مت فوراٴ د نیشنل عوامی پارتی مشران بندیان کړل مگر نیشنل عوامی پارتی خپله مبارزه جاری وسا تله د مارچ ۱۹٦۹ کی ایوب خان جنرال یحیی خان د حکومت نه وشاړه او مارچ کی ولی خان او د نیشنل عوامی پارتی نور مشران ازاد کړل ولی خان د ازادۍ سره سم په جنرال یحیی خان باندی دباو جاری وساتلو د هغه وخت سیا سی مسا ئیل ئی ورته په گو ته کول چه هغه یو یونټ ماتول وو . چه کو می سوبی دوی په ۱۹٥٤ کی ړنگی کړی وی هغه بیرته په ځای کول پارلمانی جمهوری نظام قایمول د سری په سر د راٴی یعنی ووټ ورکولو. یحیی خان حکو مت مجبور شو دوی یو یو نټ مات کړو سو به پښتونخوا بیرته په حال شوه او بلو چستان په تاریخ کی اول ځل دپاره سوبهٔی حیثیت و گټلو. د ولی خان ټیم کی ډیر تکړه تکړه ملگری را جمع شوی وو د مثال په توزه غوث بخش بزنجو صادق

کانسی ـ اجمل خټک ـ ارباب سکندرخان خلیل
خان محمد افضل خان ـ عطاء الله خان منګل
نواب خیر بخش مری او دغسی نور د نیشنل عوامی پارټی
د ولی خان تر مشرګری لاندی داسی کامیاب سیاست
وکړو چه څه وخت ۱۹۷۰ کی انتخابات و شوو نو
نشنل عوامی پارټی بلوچستان او پښتونخوا کی وګټل با
وجود ددی چه شاهی افغانی حکومت تر ځمکی لاندی
پټه ویشت لکه ګلداری قیوم خان کشمیری ته ورکړی وی ـ
دغه افغانی منافق سیاست هله څرګند شو چه ۱۷ د ـ
جولای ۱۹۷۳ کی سردار داود خان شهید په افغانستان
کی په اقتدار راغی پاکستانی پنجابی پوځ اختیار ورکولو ته
تیار نه وو . چه نتیجه کی بنګال جدا شو پاتی پاکستان
کی فاشیست بوټو نیشنل عوامی پارټۍ مجبور کړو چه دوی
ته سوبه ئی حکومتو نه ورکړی د می ۱۹۷۲ کی پښتونخوا
او بلوچستان کی د نیشنل عوامی پارټی حکومتو نه جوړ
شول چه دی باندی تهران کابل او اسلام اباد خوشحاله
نه وو دوی پلمه لټوله په اخر ۱۹۷۳ کی ظالم اوفاشیست
بوټو د شاهنشاه ایران په وینا او د کابل په اشاره د ـ
نیشنل عوامی پارټی حکومتو نه ړنګ کړل د پنجابی فوج
پښتنو او بلوچو تر منځ جنګ جوړ شو د ولی خان قیادت
دومره با اثره وو چه د نیشنل عوامی پارټی د ملت دننه



او بهر دښمنانو په نره مقابله وکړه چه دی باندی هم
ددښمن زړه سوړ نشو نو دوی د فبروری ۱۹۷۵ کی د
نیشنل عوامی پارټی باندی پابندی ولګوله د ولی خان
نه را واخله تر ورکوټی مشر پوری حکومت پاکستان دوی
بندیان کړل او بوټو منسوبی جوړولی چه دوی ټول پانسی
کړی مګر بلوچ او پښتانه مړه نه وو د ملت وننه نسیم
بی بی او دملت نه بهر (ورچانی) ښاغلی اجمل خټک په
فاشیست بوټو باندی دومره دباو راوړلو چه فضاء دیته
تیاره شوه چه د جولای ۱۹۷۷ کی جنرال ضیاءالحق بوټو
بندی کړو او ۱۹۷۹ کی ئی په دار کړو . د اکتوبر
۱۹۷۷ کی ولی خان سره د خپلو ملګرو د حیدراباد د
جیل نه ازاد شو ولی خان د ازادی سره سم دضیاءالحق
خلاف جمهوری جنګ شروع کړو .
یو ځل غالباء د مارچ ۱۹۷۸ کی شاهنشاه ایران دپاکستان
په دوره وو نو ئی خواهش ظاهر کړی وو چه ولی خان او
بزنجو سره لیدل غواړم چه څه وخت دوی ورسره ملاقات ـ
کړی وو نو دوی عام ولسی ستړی مشی کړی وه دغه درباری
مکر جن سلامونه ئی نه وو کړی پدی باندی د شاه طبعیت
خته شوی وو تاریخی نسلی زبانی مذهبی خبرونه پس
شاه چه څه مطلب وو هغه داسی وو چه ولی خانه کله
چه زه د شپی ویښ شم او پدی سوچ وکړم چه که پاکستان



مات شی نو ددی غمه تر سهاره خوب نه راځی . ولی‌خان
ورته په ټوکه کی ویلی وو چه ( پاچا قربان تاسو د
ایران غم کوی د پاکستان غم مونږ ته را پریږدی ) . ددی
ملاقات نه پس خمینی د شاه پښی په هوا کړی ده د ـ
پاکستان غم کولو او خمینی د مچ په شان د ایران نه
وشړلو او په ټوله نړی کی ورته چا پناه نه ورکوله
دولی خان خبره به ضرور ورپه یاده وی چه ما دپاکستان
غم کولو د ایران نه ئی وشړلم ددی نه اندازه لږیږی چه
ولی خان څومره ژور معلومات او سیاسی زیرکوالی لری
د ۱۹۶۷ نه ایوب خان ـ یحیی خان ـ بوټو ـ ضیاء ـ
الحق ـ شاه ایران او داسی نور مقامی او خارجی مشران
دخپل سیاست په زور ځای ته ورسول او دوی روغ او رمټ
ګرځی دوی دفوج په زور ندی پاتی بلکه د خپل صحیح
سیاسی تجزیئی او تجربی په زور پاتی دی او مونږ
دعا کوو چه خدای دی ډیر عمر ورکړی . ولی خان
ملی او بین المللی شخصیت دی .

> د تاریخ جبر
>
> پښتانه یودی خیالی کرښی بیلولی نه شی
> پښتون ملت سره یو موټی یواواز دی ورکیدلی نه شی
> دتاریخ جبردی حتمی به پښتونخوا جوړیږی
> دپښتونخوا دجوړیدو مخی ته هیڅوک ودریدلی نه شی
>
> "امین کونړی"



# توره خیره

## لیکوونکی: دکروال حضرت رسول

په افغانستان کی دافغانستان خلک دیموکراتیک ګوند لانه وو
جوړ شوی خو کارمل د روسانو د(ک،ګ،ب)په چتله اوبدنامه
دستګاه کښی د یو الحمویل شوی خیری په توګه د جاسوسی
دنده سر ته رسوله . دثور د پوځی پاڅون د۱۳۵۷کال
نه وروسته کارمل او ملګرو ئی غوښتل چه د ک،ګ،ب اوروسی
پوځیانو په مرسته پوځی کودتاه وکړی چه پر هغی هم
بریالی نشو او د روسی پوځی کمونستانو په مشوره پهباندنیو
هیوادو کی د سفیرانو په توګه وګمارل شول . روسی پوځی
کمونیستان پدی پوهیدل چه په افغانستان کی د ثور دنظامی
پاڅون نه وروسته پښتنو سیاسی قدرت تر لاسه کړی او که
چیری ددوی جرړی نوری هم پسی کلکی کیږی نو بیا پدی
تو ریا لی ملت حکم کول او ټپا تر خپل لاس لاندی راوستل
یوه نه منونکی خبره ده نو له دی کبله ئی د ګوند په رهبری
کی چه تجربه ئی نه درلوده داسی نفاق راوست چه د رهبری
غړی یو پر بل مړه کړه او نظامی کمونستانو ته دا
موقع په لاس ورغله تر څو خپل بریځی ( ایجنټ ) کارمل
د خپلو پوځیانو پر اوږو کابل ته راولی نو پدی توګه دروسی
نظامی کمونیستانو څلوېښتم اوردو چه تعداد ئی د یو سل
او پنځوس زرو سر تیرو څخه زیادوو او په ډیره مودرنه وسله
سمبال شوی وو او په چکسلواکی باندی ، د یرغل پوره
تجربه هم درلوده د ځمکی او هوا دلاری د ۱۳۵۸ کال د

جدی په شپږمه نیته چه د افغانستان په تاریخ کی یو تور
ټکی دی پر کابل یا ندی حمله وکړه او خپل اساسی پوځی
قوت ئی د دارلامان په لور چیرته چه دافغانستان قانونی
دولت قرارگاه وه د یرغل امر ورکړ د روسی نظامی کمونستانو
دبی رحمه بمباریو د توپونو او ټانکونو د گولیو دویشتلو
له امله یو زیات پر هیواد مین ځلمیان شهیدان شول او
د دارلامان د تاج د تپی مانی چه زموږ د هیواد
د ښکلو او لرغونی ودانیو څخه شمیرل کیده وسوځیده اولتا ړ
لتاړ شواو وسوزیده د روسی د نظا می کو منستانو د څلوېښتم
اوردو قوتو نه داسی ځای پر ځای کړه چه زیاتره برخه ئی
په مرکز یعنی کابل کی د خپل بریخ یعنی کارمل د ساتنی
لپاره ځای پر ځای کړه او بله برخه ئی په نورو ولایتونو کی
چیرته چه د ا.د.ج د اردو او څارندوی قوتو نه وو تر
څو د هغوی د پا څون نه ئی د کار مل پرضد مخ نیوی
کړی وی د خپل پوځی هوائی غونډونو سره یوځای ځای پر
ځای کړل او د خپل بریخی د ساتنی دپاره ئی د افغانی
گارد برسیره چه پر هغی هم د قو ماندان د گارد نه نیولی
د ټولی تر سطحی پوری روسی نظامی مشاورین گمارلی وو
او یوه روسی لیوا چه ډیره تقویه شوی وه د نوموړی د ساتنی
د پاره هم د رو سانو له خوا گمارل شوی وه . د کارمل
د کور او دفتر څارونکی د مو ټر ډریور اشپز او نور روسی
پوځیان چه په ملکی یونو فورم کی وو چو پړ کاوه .
کارمل تش په نوم په کابل کی د خپلو مزو چړچو د پار ه
ناست وو او نور واک او اختیا ر د روسی پو ځی کمو نستانو
په لاس کی وو که کوم وخت به ئی د خلکو سره خبری کولی
او یا به د هیواد کوم ولایت ته تلو نو هلته به د روسی
پوځیانو له خوا وړل کیده څارنه به ئی کیده او پرځنگ کی
به ئی د رو سانو پو ځی جنرالان ناست وو او د یوی تاجکی
ترجمان له خوا به نو موړو جنرالانو ته د کارمل خبری ټکی



په ټکی ترجمه کیدلی تر څو هغه له هغو هدایتو نونه
چه روسی پو ځیانو ورته ورکړی دی څه کم او یا زیات و نه
وائی کارمل به کو ښښ کاوه تر څو رو سی نظامی جنرالا ن
خو شحاله و ساتی نو په دی خاطر به ئی هر شپه دوی ته
د شرابو او نورو فحشاء و میلی برابرولی او په اخرکی به
ورته ډیر قیمتی اثار چه هغه به د کوتی باغچی د موزیم
څخه اخیستل شوی وو رشو تو نه ورکو ل چه روسانو به
ورته تحفی و یلی او کله به چه مسکو ته د بریژنیف او د
هغه د سیا سی بیرو غړو د لیدلو او هدایتونو داخیستلو
د پاره تلو نو بیا به هم د دارلامان او کوتی باغچی د ملی
موزیمونو څخه ډیر په زړه پوری قیمت اثار چه زموږ د هیواد
یوه لو یه شتمنی به ئی تشکیلو له له ځانه سره په مخصوصه
الو تکه کی د هغوی د پاره وړه کیده . د افغانستان د
بانک نو له ملی شتمنی چه په هغه کی طلا او نورخارجی
اسعار موجود ول د کارمل په لارښونه باندنیو هیوادوته
ولیږدول شو او ملی با نک چور شوو او نور کو م تاریخی اثار
چه په ملی مو زیم کی پا ته وو د سلطانعلی کشتمند په
امر او صلاح د هغه د ورور اسدالله کشتمند په واسطه
د رو مانیی له لاری لیوډیځی اروپاته یوړل شول او پاته
برخه ئی د نجیب الله په واسطه سویس او دهلی ته
استول شوی دی . لنډه دا چه د افغانستان د بیوځلو
خلکو نو له شتمنی د همدغو گوډا گیانو په واسطه په سفرکی
ضرب شوه .

د اوردو او څارندوی په هکله ویلی شم چه پدی قوتونو کی
د کنډک او پر ځینو ځایونو کی د ټولی تر سطحی پوری
رو سی پوځی مشاورین گمارل شوی وو چه په واقعیت کی
ټوله سوق او اداره د کارمل د دیرکتیف په اساس چه په
اوردو او څارندوی کی چه هیڅ قو ماندان او امر حق نلر ی
چه د رو سی پو ځی مشاورینو د اجازی او مشوری نه پرته



کوم کار په خپله خوښه سرته ورسوی اجرا کیدله .
ددی لپاره چه پوځی روسی مشاورینو افغانی افسران تر
خپل تاثیر لاندی راوستلی وی نو هغوی ته بهئی د لورو
چو کیو د ترفیع ورکولو او ځینو ته به ئی په شوروی اتحاد
کی د نظامی زده کړی وعدی ورکولی . خلاصه د جزء تام
قطعی او لویو جزء تامونو سوق او اداره د روسی نظامی مشاورانو
په لاس وه او بس. د وړو او لویو جزء تامونو پوځی فعالیتونه
به د روسی پوځی مشاورینو له خوا برابریدل پرته لدی چه
یو افغانی قوماندان او امر پدی پوه شی چه کوم استقامت په
کوم ځای کی د چا په مقابل کی دغه فعالیت سرته رسیږی
په نا ببره تو گه به د یوه پو ځی مشاور له خوا د هم هغه
جزء تام قوماندان ځان ته را و غوښت او له واره به ئی ورته
د پوځی فعالیت امر ورکړ. چابه ترینه پو ښتنه هم نشوه کولی
چه هلته گلی دی ماشومان دی ښونځی دی او یا روغتو ن دی
او که چا به څه وویل نو بیا به پری دا تور لگیده چه دا
افسر د کار مل او یا نجیب الله پر ضد دی پر هم هغه
لحظه به د خپلی دندی څخه لری کړای شو او د څرخی
پل په پلیگون کی به د ښاد دچتلی دستگاه له خوا چارماری
شو نو پدی ترتیب به د پو ځی فعالیت داجراکیدو په اساس
کلی او کورونه با غو نه رو غتو نو نه چه په هغی کی به
تورسری سپین زیری ماشومان او ځوانان موجودوو ټول به
د خپلو راتلو نکو هیلو سره شهیدان شول او هدیری ترینه
ډکی شوی چه پدی تو گه د روسی پو ځیانو له خوا دیونیم
میلیون نه زیاد افغانان او په زیاته توگه پښتانه شهیدان کړای
شول . په اوردو او څارندوی کی د پو ځی کدرونو پرځای
کیدل یوازی د روسی پوځیانو په لاس کی وو . د کدرونو
د ځای پر ځای کو لو پرنسیب داو چه لمړی باید څومره
رشوت مشاور ته ورکړل شی . دوم د کارمل نجیب او کشتمند
د خپلوانو څخه دی او که نه



دریم : څوك د کارمل په شان د خ.گ.ب غړی دی
څلورم : ( څو مره قابلیت او هوښیارتیا لری ) (ځکه چه به
که ډیر لایق او هوښیار و نو هغه به هم د مشاور له خوا
چه ما سره دلایل وائی نه منل کیده ) چه له همدی کبله
نن په اوردو څارندوی او څاد کی هغه څوك سترجنرالی
او ډگرجنرالی ته رسیدلی چه اخلاقی او علمی سویه ئی
صفر ده . دا ټول هغه څیزونه وو چه پوځی مشاورینو به ت
ترینه کار اخیستلو .

په اخیر کی روسی پوځی کو منستان پدی پوه شول چه
د پښتنو غضب کینه او کرکه زمونږ په مقابل کی را پاریدلی
او نور ددی کوډا گی یعنی کارمل په واسطه مخی ته نشو
تللی نو فیصله ئی وکړه تر څو د خ.گ.ب معلوم ایجنټ
نجیبالله د کارمل پر ځای وگماری او پښتنو ته وښئی چه
گو ندی نجیب الله پښتون دی خو سره ددی هم د روسانو
مادی او انسانی تاوانونه دومره زیاد شول چه نورئی د زغملو
طاقت نه درلود نو مجبور شول چه خپل څلویښتم اوردو د
افغانستان څخه و باسی او خپل ځانو نه د وژنی نه
وژغوری څو خپل پوځی مشاورین ئی په افغانستان کی
وساتل اونجیب الله دولت ته ئی د څلویښتم اوردو پر ځای
داسی تباه کونکی وسلی لکه سکاډ یو سکاډ دوه (اوراگان)
( لونا ) او نوری نوی وسلی ورکړی چه د هغی په واسطه
په هره ورځ په سلگو نو افغانان وژل کیږی .

په پای کی ویلی شم چه روسی پوځی کمو نستانو د خپل
ښکیلاگر سیا ست په اساس چه د افغانانو او په خاصه توگه
د پښتنو د میړانی او شهامت هغه درسونه چه د هغه
وخت د نړی لوی ښکیلاگر انگریز ته ئی ورکړی وو له پامه
غورځولی وو چه په نتیجه کی روسی پو ځیانو نه یوازی
روسی میرمنی بوری او په ویر کینولی او دخپل اقتصاد لویه
برخه ئی د یوه داسی ایجنټ او گوډاگی د سرنه قربان کړه

چه هغه نه یوازې دافغانستان په خلکوکې ځای نه لری بلکه د افغانستان خلک ورته د نفرت په ستر ګه ګوری او هم ئې د روس پوځیانو دنظامی دیکتاوری سو سیالیزم او دهغې پورې تړلی سیستم داسې رنګ کړ چه هېڅ چاپه په خوب او خیال کې سوچ نکاوه .

په اوسنیو شرایطو کې چه د افغانستان د وضعې داراموللو د پاره ښه موقع پیدا شوی ده ښه به دا وی چه دافغانستان په وضعه کې ټول داخل هیوادو نه په خاصه توګه رو سیــه امریکا ، چین ، پاکستان ، ایران ، هند او عربستان سعودی خپله ښه اراده ښکاره کړی اوددی ملاتړ وکړی چه افغانان د ملګرو ملتـو د وراندی شوی پلان په رڼا کې پخپله د خپل راتلونکې پــه هکله فکر وکړی ځکه چه د افغانانو پرته بل هیڅ څوک نشــی کولای چه په افغانستان کې ارامی راولی بلکه دوی دی چــه د خپلو ملی عنعنو په اساس کولای شی د خپلو ځانګړو مادی او معنوی ګټو څخه تیر شی او ریښتیانی پخلاینه او ارامی منځ ته را ولی او ددی سره سم ټول باندنی هیوادونه په خاصه تو ګه پرمختللی پانګه وال هیوادونه د افغانستان د بیا ودانولو او سمسورولو دپاره راوبولی .

مـــلاتـــړ

د پښتنوټولنیزا ولسولیزګوند دپښتنود قومی مشرانــو د هغه هلوځلو سره مـلاتړښکاره کوی چــی د پښتنو د حقوقــو دغــوښتلو او دفاع د پاره د پښتنو داولسی پارلمان پــه توګه یــوه عــنعنوی دایمــی قومــی جــرګه جــوړول غــواړی . د پښتنوټولنیزا ولسولیزګوند دغسی یوه ملــی جــرګه د پښتنو دیووالی اواتفاق اود پښتونخوادابادی اوسوکالۍ پــه لاره کښی یو ستر ګام ګــڼــی .

که توفیق د اتفاق پښتانه مومی زوړ خوشحال به شی په دا خبره ځوان

"خوشحالخان بابا"



## په ملی ادب اوادبیاتو باندی دثور داوښتون اغــیزی

افغانستان د تاریخ په اوږدو کې د همیشه لپاره ددی وطن د ظا لمانو سره ډغری وهلی دی په دغو ډغرو وهلو کې یو څه د افغانانو ملی ادب ټو لنیز ژوند او سیاسی حالات ټکیدلی او د خپل مسیر نه که او ښتی ندی نو د ډیــرو ستو نځو او خنډو نو سره مخا مخ شوی دی چه دافغانی ټو لنی پر مخ تګ او وده ئې ډیره زیانمنه کړی ده .که چیری و غواړو چه نن ملی ادب او اوادبیاتو په هکله افغانی ټولنی ته یو نظر واچوو نو دا یو ډیر لوی بحث دی خو زه غواړم چه پدی غټ بحث خبری ونکړم او تنهاد ثور د کودتانه وروستـــــه په افغانی ټو لنه کې په ملی ادب او ادبیاتو باندی په عمومی ډول یو څه رڼا واچوم . د دریمی نړی په هر ګوټ کې چه کوم بدلون د عسکرو په زور راغلی دی نو هغه هیڅکله یوداسی ښه نده نیولی چه دا بدلون یا اوښتون دی ولس تــــه د خدمت مصدر وګرځی . دا اوښتون تنها د عسکر اوښتـــون نه وو بلکه ملی ادب او ادبیاتو ته پداسی عسکری تحولاتو کې نه ځای وو او نه چا ګځای ورکاوه بلکه هغوی ته د خپل ټولنیز ژونـــد دود او دستور یو زوړ څرخ ښکاریده چه دا څرخ بایدنـــور د منځه لاړ شی ښه به دا وی چه دا څرخ سری نور هم رامجرث کړی او د ټو لنیز ژوند په ګټو ئې را څرخولی وی لیکن پــه افغانستان کې چپه کار وشو . که چیری سر ی په افغانستان



کې د شپږو کالو را هیسې حالات د نظره تیــر کړی نـــو دا به ورته څر ګنده شی چه ژبه، نشریات ، ملی، ادب ــ پوهان ، استادان، شاعران ، هنر مندان ، لیکوالان یـا د حکو مت له خوانه په کلکه سره سانسور کیده او یابی نشو کولای چه په ټو لنیز ژوند کې د خپل ازادانه خیال اوفکر مطابق خپل نظریات وړاندی کړی نو په داسی شرایطوکې نشی کو لای چه ټو لنیز ادب لیکنی کتابونه مقالی ډرامونه او نور اثار ټو لنی ته وړاندی شی بلکه ټو لنه د یو لړ خنډو نو او نا امیدیو سره مشت او ګریبان کیږی پداسی حالاتو کې نه چه ادبیات مخکې تللی ملی ادب او کلتور وده کړی بلکه په شائی ګو ذار خوړلی او ملائی ماته شوی ده. د ثور د کو دتاه نه وروسته او خاصتاً پدی اخیرو ــ شپږو کلو کې حکو مت نه چه زمو نږ ملی ادب او ادبیات ئې زیانمن کړه بلکه غو ښتل ئې چه د رو سانو د خولی خوراك ئې کړی. په افغانستان کې هغه ښوونځی چه د ــ ولا یتو نو او اطرافو د پښتو ژبی لپاره جوړ شوی وٶ له منځه یوړل او د هغو څخه ئې خپل . حقوق واخیستل نــو څنګه به ادبیات په داسی یوه ټو لنه کې چه په سلو کــی پنځه شپیته پښتانه دی اصلاٴ پښتنی ادب او ددوی ادبیات په عمو می تو ګه وده وکړی دثور د کو دتانه وروستــه پــه افغانستان کې یو تعداد خلکو ته وظیفی او دندی ورپه غاړه شوی چه هغوی ددی دندو هیڅ لایق نه وٶ نه چه ادبی




بحیربی ځنډ کړ بلکه د نابودی خواته ئې روان کړی وٶ. د ډیــرو پوهانو شاعرانو لیکوالانو هنر مندانو او استادانو څخه قلمونه واخیستل شو او خولی بی ور وتړلی او پرځای بی . هغه خلك مقرر شول چه د ابتدائی سواد خاوندان هم نه ول.

بل مهم ټکی زما په نظر دادی چه د ثور د کودتانه ورو سته ټول ادبیات د ګوند او حزب صفتونو ته وقف شو چه ملی ادب او ادبیاتو په خپله پیمانه هیڅ نظر و نه شو نو همداوٴ چــه سرسری او سطحی شیان رامنځ ته شو چه نه ئې سرلاره او نه ښبی او حتی په ادبیاتو ملنډی شروع شوی او ادبیات دانقلاب په جوش ټول جزباتی ادبیات شو او سری ناری سوری شوی.

ادبیات په رسمی او تشریفاتی شکل د یوی وجی تبلیغاتی وسیلی په توګه استخدام شو دا ښکاره ده چه دداسی بدلونونو پــه مسیر کې ادبیات هم بیشکه دډول سیاسی او ټولنیځی فضـا څخه اغیزمند کیږی خو ښه بهٔ دا وی چه د یو واحد ولـــس ادبیات لکه څنګه چه د ټو لنی ایجابات وی خراب نشـــی او دغی واحدی پا نګی ته د زړه له کو مے نظـــر وشی او پــه هر حالات کې د یو واحدی پا نګی په شکل پاتی شی .


شیرېندل کامران ګردیوال

لیکونکی
شیرېندل کامـــران ګـــردیوال
دکابل دپوهنتون دادبــیاتو
دپــوهنځی پخوانی استـــاذ



عطامحمد شیرزی

د پښتنو د ټولنیز ولسولیز ګوند د مشر
د سلاکار ښاغلي عطامحمد شیرزي سره
مرکه

پوښتنه

تاسو چه خپل عمر په اوږدو کي د خپل وطن د سیاسي حالاتو سره علاقه درلوده او پدې باره کي پراخ معلومات او تجارب لري او ډیري واقعي ستاسو په مخ کي منځ ته راغلي دي خصوصاً د ګران وطن ورستني حالات او واقعات چه زمونږ وطن ئي د خاورو سره خاوري کړ چه لا هم دوام لري یو څه وواياست ښه به وي .

ځواب ـ ما د خپل عمر وه لسیزي په خپل ګران هیواد افغانستان کي داسي تیر کړي چه د کال دیارلس سوه شپاړس نه را پدې خوا د ازادي او روښنفکر منورینو ټولنو او قشرونو نهضتونو سره کله اوګه په اوګه او کله ئي هم په څنګ کي تللي یم د خپل وطن د سیاسي حالاتو د ابادي، ازادي او سمسور تیا سره مي د زړه د کومي علاقه او مینه درلوده او لرم ئي زموږ ګران هیواد افغانستان ډیر اوږود او لرغوني تاریخ لري چه په هره پیړي کي په زرګو پوري ـ حماسي او د فخر ور کارنامي لري خو پدې اخرو سل او پنځوس لږ او ډیرو کلو نوکي چه د موقعیت له لحاظه د دوه جابرو استعماري مملکتونو په منځ کي را ګیر دي (روس او ـ



انګرېز ) د غو دوه وو جاګیردارو قوتونو د خپلو استعماري ګټو د ساتلو په غرض سر بیره پر دې چه کله د یوې خوا او کله د بلې خوا استعماري تجاوزونه زمونږ په خاوره کړي بیا چه د دې وطن با غیرته او با شهامته خلکو له خوا شړل شوي او شرمیدلي دي نو د دې وطن د ځینو خائینو عناصرو له خوا چه د پردیو استعماري ممالکو په خدمت کي داخل شوي د هیواد وګړي ئي د بې علمي او بیسوادۍ په حال کي ساتلي تر څو خپل شوم مقاصد پدې منطقه کي پر مخ بوځي او کله کله ئي هم زمونږ د وطن د حدوداتو او خاورې مهم سوق الجیشي سیمي په یوې او بلې بهانې زمونږ نه غصب کړي لکه د ډیورن ـ منحوسه کرښه د انګریزانو له خوا د پنج ده او نورو ـ شمالي ځینو سیمو غصبول د روسانو له خوا چه بیائي د لاس پوځو ګوډا ګیانو له خوا تحمیلي معاهدي پرته د ولس له خوښي لاس ته راوړي او بیا ئې هغه اسناد د یوه قانوني سند په څیر د افغان ولس پر مخ را وباسي او ـ کله کله ئي هم د ټول افغانستان اشغال ته زړه خوښ کړی د شاه شجاع او ببرک کارمل پر څیر وطن پلورونکي عناصر ئي پیدا کړي او خپل بیشرمانه تعرضات ئي پیل کړي تر څو ټول افغانستان تر خپل اشغال لاندي راولي خو لکه څنګه چه ټولي دنیا ته معلومه ده انګریزانو دري واري



د افغان ولس د باتورو او جنګیالو با شهامته زامنو او بچیانو له خوا داسي ماتي او شکست خوړلي او تښتیدلي دي چه په تاریخ کي ډیر ننګین او تور داغ ئي په وچولو کي هر چاته څرګند دي او همدا رنګه په وروستیو کلو نو کي روسي یرغلګرو استعماري قوتونو چه تور مخي ببرک ئي تر مخه کړی او د افغانستان ټول اشغال ئي په نظر کي و، بیا هم د افغان ننګیالو بچو ته داسي شکست او ماته وخوړه چه اوس په هغو خپلو پخوانیو مستعمروکي ئي هم پښې نه ټینګیږي تاریخ یو ځل بیا تکرار شو کله چه افغان ولس د برطاني لوئي او عظیمي امپراتوري ته په خپله خاوره افغانستان کي شکست ورکړ د هغې لویې امپراطوري جر ړی د دنیا د ډیرو ملکو نو نه ووتي او اوس چه روسان د افغان بچو نه شکست او ماته وخوړه د روس پراخه امپراتوري هم په ړنګیدو ده .

پوښتنه . د افغانستان د کشالي د سیاسي حل په باره کي په اوسنیو شرایطو کي ستاسو نظر څه دی.

ځواب . په افغانستان کي اوسني حالات داسي دي که انسان ورته ښه ځیر شي د جنګ له لاري تر ډیري مودي په افغانستان کي صلحه او امنیت تأمینیدی نشي پدې معنا چه په افغانستان کي ډیري ویني توی شوي او ټول ولس را پاریدلی دی هر ګروپ او هر څوک د خپلو ګټو په



خاطر هلي ځلي کوي او خپلي ګټي د زور او جنګ له لاري لاس ته راوړي داسي فرض کړي که چیري د کابل حکومت سقوط وکړي او د مجاهدینو نه یو یا دوه تنظیمونه بریالي شي چه کابل تر لاسه کړي د کابل په نیولو جنګ نه ختمیږي بلکه لا هم نور زیاتیږي ځکه نوري ډلي ئي ورسره نه مني نو جنګ به د پخوا په شان روان وي او د خلکو ویني به بهیږي زما په نظر هغه طرحه چه د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند له خوا چه د متحده مللو د سر منشي د طرحي په بنا او تائید وړاندي شوي ده یوه عملي او جامع او د افغانانو د جامعي د دود دستور سره موافقه طرحه ده چه د جرګو او مرکو په اساس افغانستان کي د سولي او امنیت د برقراریدو ـ امکانات شته او بس . خو زما هیله داده که هر څه ژر دی کار ته اقدام وشي ډیر به ښه وي ځکه د شوروي اتحاد اخرني تحولات به خامخا د افغانستان په اوسني حالاتو اغیزه وکړي او په افغانستان کي به داسي حالات راشي چه ډیر خلک به څه په جنګ کي او څه به د ـ لوږي او د راتلو نکي ژمي د یخني نه ومري .

د پښتونخوا خبریال: عزیز رحمان "سرشار"

# د کابل د ځرخي پُل د جیل نه راغلي لیک

د افغانستان د خلك دیموکراتیك گوند د ملی اواجتماعی
عادلانه مبارزو د سننو د دوام ورکونکی په حیث اود برتانوی
استعمارچیانو په مقابل کی د افغانستان دخلکو دازادی —
بښونکو قیامونو او سید جمال‌الدین افغان د ملی اواسلامی
ارمانونو څخه په الحام د ازادی غوښتونکو مشروطه‌غوښتونکو
د استبداد ضد او دیموکراتیك جنبش( ویښ ځلمیان )دندای
خلك او ( ندای وطن ) د هوادارانو د اوومی دوری ملی
شورا او( محصلاتو اتحادیه ) او د ازادی او دیموکراسی
دطرفدارو ټولوقواو تیت او پاشان مقاومت څخه په الهام د
۱۳۳٤ کال د اساسی قانون د دیموکراتیکو ارزښتونو څخه
په گټه اخیستنه په ۱۳٤۳ کال کی د جدی په ۱۱ نیټه
تشکیل شو. خپل مرام او تشکیلاتی اصول ئی طرح او تنظیم
کړل او خپله رهبری ئی په دیموکراتیکه توگه انتخاب کړه .
د مشخصه حالاتو په مشخص تحلیل او دمبارزی د ټولو
شکلونو او شیوو څخه په سمه گټه اخیستنه سره ئی خپله
عادلانه کار او پیکار د دیموکراسی اجتماعی پرمختیا اوملی
استقلال د پایو دټینگیدو دافغانستان دخلکو دسیاسی او
اجتماعی حقوقو د برابری او دجهانی صولی دتقویئی په
گټه پیل کړه . دا گوند د رهبری ددرك د تفاوتونو
د سیاسی او سازمانی تجربی د نه لرلو د اجتماعی ملی
فرهنگی او روانی اختلافاتو او یو شمیر نورو عواملو په علت
د ۱۳٤٦ کال د ثور د میاشتی په ۱٤ نیټه په دوه اساسی
برخو ( خلق او پرچم ) او وروسته بیا په یو تعداد نورو
څانگو و ویشل شو.
دافغانستان خلق دیموکراتیك گوند دی دوو برخو لس کاله
دخپلو سیاسی مخالفینو سره او هم ئی په خپل منځ کی یو
دبل پر خلاف مبارزه وکړه .



د ۱۳۵۲ کال د سرطان په ۲٦ نیټه دسردار محمد داود
له خوا جمهوری نظام اعلان شو. د دیموکراسی د مخالفینو
د دریز د تقویئی دسیاسی ترورونو او خفه کیدو دخطر
د پیداینښ د رژیم د پولیسی تعقیباتو د تشدد دسیاسی
احزابو د فعالیت د مخنیوی او دملی غورزنگ گوند دتشکیل
په نتیجه کی خلق او پرچم رهبری د دیموکراسی سیاسی او
سازمانی مستقبل ژوند دادامی څخه د دفاع په خاطر
د ۱۳۵٦ کال د سرطان د میاشتی په ۱۲ نیټه دوحدتمند
خدای بښلی نورمحمد ترکی په رهبری امضاء کړی شو.
په گوند باندی د سردار محمد داود د عاقبت نا اندیشانه
حملی او دافغانستان خلق دیموکراتیك گوند د رهبری دبندی
کیدلو په علت د ثور د ۷ نیټی مسلحانه قیام صورت ومونډ
او د افغانستان دیموکراتیك جمهوریت مستقر شوی دی نو
بنیاده ملی دولت د هیواد ټول بین المللی تعهدات محترم
و بلل او د همسایه اسلامی غیر منسلکو او د جهان د نورو
سوله غو ښتونکو هیوادونو له خوا په رسمیت وپیژندل شو.
د افغانستان د دیموکراتیك جمهوریت د استقرار څخه لا دوه
میا شتی نوی تیری شوی چه د ستر قدرتو نو د ښکاره او
پټی مداخلی او د گوند د داخلی اختلافاتو په علت د —
افغانستان خلق دیموکراتیك گوند د دواړو جناحونو تر منځ
وحدت مات شو او په تدریجی ډول په ملی او جهانی سویه
د خلکو گوند د حاکمیت د زوال زمینی مساعدی شوی. د
۱۳۵۸ کال د جدی په ٦ نیټه د جنگ د اعلان نه پرته
د شوری اتحاد نظامی تیری زمونږ پر هیواد پیل او د شوروی
دولت له پلوه د بین المللی حقوقو ټول موازین نقض شول.
د افغانستان د خلق دیموکراتیك جمهوریت چه مخکی د شوروی
او نورو متشابه دولتو نو له خوا په رسمیت پیژندل شوی‌وو بی
له هیڅ ډول دلیل نه نسکور او رئیس ئی ووژل شو.
د شوروی رهبری خاصتاء (ك.گ . ب ) د خلق پر جناح



تار په تار کو نکی گزارونه وکړل . د خلق د جناح د سیاسی
بیرو غړی د مرکزی کمیتی منشیان وزیران او نور حزبی او —
دولتی لوړ مقامونه ئی زندانی یو تعداد ئی اعدام او یو
تعداد ئی ازاد ولی بی سلاحیته شول . دچارو واگی ظاهراء
د پرچم د فرکسیون رهبر ببرك کارمل ته وسپارل شول.
د اشغالگرانو په خلاف زمونږ د خلکو مقاومت د تاریخ پدی
مرحله کی پراخه شو کورونه خراب او ډیوی مړی شوی لاری
خرابی او ویالی بی اوبو او کلی خالی شول د وطن په
میلونهاو زحمتکشان دخپل کلی او وطن څخه جلا دربه دره
او مهاجرت ته مجبور شول. افغانستان د منطقی د حادو —
تزادونو او دجهان په یو چینجن ( خو نین ټپ ) تبدیل
شو د افغانانو سر زمین ( تا توبی ) د دوه ابر قدرتونو
په سلاح ازموینو زور ازمولو کشمکشونو او پراخو نظامی مانورو
تبدیل شو . چه ددغو پټو او ښکاره مستقیمو او غیر مستقیمو
مداخلاتو په نتیجه کی په میلیونهاو افغانان مړه معیوب او
معلول شول او ملی ستر سروتونه لوټ شو. باید په غمجنه
توگه ولی په افتخار سره یاد اوری وکړو چه ددغو غم انگیز و
کشمکشونو او زور ازمینو په جریان کی د جنگ غوښتونکو دتیری
او استبداد په مقابل کی د خلق د جناح مبارزی بیا هم
په مختلفو شکلونو شیوو او راز راز وسیلو ولی د خلکودبهترینو
بچیانو د ژوند په بیه ادامه پیدا کړه او د خلق دجناح‌عادلانه
مبارزه مړه پاتی نشوه . د شوروی د رهبری او جهانی پالیسی
د تغیر او د بین المللی منا سباتو په ساحه کی د نوی
چرخښ د پیدا کیدو سره سم په افغانستان کی هم د ملی
روغی جوړی سیاست طرحه شو . د ژنیو د موافقت نامو
د اسنادو امضاء د شوروی اتحاد د نظامی قواوو بیرته
ایستلو ته زمینه مساعده کړه . د خلقی جناح د رهبری
اصولی طرحی د داخلی حزبی رائی غوښتنی په وخت کی که
له یوه پلوه د افغانستان خلق دیموکراتیك گوند د غړو د —



اکثریت له خوا د گرم استقبال سره مخامخ شوی خو د بله
پلوه ئی د حاکم فراکسیون د قهر او غضب وسائیل برابر کړل
او د حزبی او دولتی لوړو مقامو نو څخه ئی د خلق د —
جناح د تصفیئی چه پدی جمله کی ئی د دفاع د وزارت —
څخه د شاه نواز تنی د لری کیدو پلان طرح کړ.
پدی شرایطو کی د خلق د جناح رهبری یو ځل بیاد خپلو
وصولی طرحو څخه د دفاع په دریز کی ودریدل او دحاکم
فراکسیون د حزبی او دولتی قدرت د انحصار سره ئی —
مخالفت وښود ولی د افغانستان خلق دیموکراتیك گوند د —
حاکمی جناح رهبری د (ك. گ. ب ) د رهبری په ملاتړ
د هر ډول اپوزیسیون د دفعی او ترد د دیموکراسی
سولی او د افغانستان شاه او خواه حالاتو د ژر سیاسی حل
د طرفدارو قواو د سرکوبولو په مقصد د تطمیع ـ تخویز او —
عیش او نوش د پالیسی د وصیلو څخه په استفاده ئی ددفاع
د وزارت قرار گاه محاصره او خپله پلان شوی حمله ئی شروع
او شاه نواز تنی ئی د ۱۳٦۸ کال د حوت د میاشتی په
۱٦ نیټی نظامی کړنی ته مجبور کړ. ددی حادثی څخه
ئی د خلق د جناح د مرکزی کمیتی د غړو کدرونو قوماند —
انانو او اتلو پیلوټانو د پراخی تصفیئی بهانه په لاس راوړه
او همدا رنگه ئی د خلقی جناح یو تعداد لوړ رتبه افسران
بی له محاکمی نه په خشونت او تعصب امیز ډول سره سر
کوب او و وژل . ددی جناح د مرکزی کمیتی ۲٤ تنه‌غړی
تصفیه او زندانی شول او همدارنگه د افغانستان خلق‌دیموکرا
تیك گوند په سل هاوء غړی د ملی پخلاینی سولی د —
افغانستان د بیا جوړونی او تکامل پلویان په زندان کی —
واچول شول . همدا اوس تقریباء سل نفره د مرکزی کمیتی
غړی جنرالان قوماندانان او اتل پیلوټان په اعدام محکوم او
د ځرخی پله د زندان په اول بلاك کی تر سختو روانی
شرایطو لاندی‌د مرگ انتظار کوی . د مرکزی کمیتی غړو

خبریال همایون زما

# نوی زیری

## کولن - پیښور

د پښتنو تولنیز ولسولیز گوند د ۱۵ د اگست نه تر ۲۷ د اگست ۹۱ کال تر نیتی پوری د پښتنو د روند مشر اجمل خټک جرمنی ته د نظریو د بدلولو د پاره میلمه کړی وو . د اجمل خټک د راتگ لپاره د پښتنو تولنیز ولسولیز گوند د ښاغلی عطامحمد شیرزی د مشری لاندی یو پنځه کسیز کمیسیو ن پروگرام جوړ کړی او بند او بست ئی نیولی وو چه لنډیز ئی په لاندی ډول دی په ۱۵ د اگست ۹۱ نیته با ندی د پښتنو تولنیزولسولیز گوند غړو د گوند مشر ښاغلی کبیر ستوری د گوند د مشر مرستیال ښاغلی علی خان مصمود لوی منشی ښاغلی هدایت الله بنگښ او نورو گند شمیر پښتنو له خوانه د فرانکفورت په هوائی ډگرکی د اجمل خټک تود هرکلی وشو . په ۱۸ د اگست د گلن په ښارکی د پښتنو د تولنیز ولسولیزگوند له خوانه داجمل خټک د هرکلی له پاره درنه جلسه جوړه شوی وه چه پدی جلسه کی دجرمنی نه علاوه د نورو اروپائی هیوادونو پښتنو هم گډون کړی وو په جلسه کی د اجمل خټک سیا سی اړخ اودده دقومی هلو ځلو په هکله ښاغلی محمد شیرین گردیوال د پښتنو د تو لنیز ولسولیز گوند له خوا نه تیاره شوی و ینا وکړه او اجمل خټک د پښتنو د قو می مبارزو او هلو ځلو د راتلو نکی بهیر یو نه هیریدونکی شخصیت وگاڼه . اجمل خټک د خپل سفر په دوران کی په جرمنی که د نورو مختلفو ښارونو د ملگرو سره لیدنه او کتنه وکړه او د راتلو نکی د پاره ئی د ملگرو د شریکو هلو ځلو او د پښتنو د قومی او اولسی بهیر په برخه اخیستلو کی د یوه نوی قدم اخیستلو هیله څرگنده کړه. اجمل خټک د خپل سفر په اوږدو کی د مختلفو پښتنو



ملگرو له خوانه په جرمنی کی مختلفو ښارونو ته را وبلل شو اود ملگرو له خوانه ورته د پښتو او پښتونولی په چوکاټ کی لکه څنگه چه یو مشر ته مناسب وی خوږی میلمستیاوی جوړی شوی وی . د پښتنو تولنیز ولسولیز گوند له خوانه د خپل د روند مشر اجمل خټک د پاره د جرمنی د یو لړ مقاماتو د پارلمان د یو شمیرغړو او د المان د سو سیال دموکراتانو سره د نړۍ د سیمی د نظر یو د بد لون او حالاتو په هکله د لیدنی او کتنی چاری سمبالی شوی وی .


اجمل خټک خپل یو لس ورځینی سفر په جرمنی کی د اگست په ۲۷ نیته پای ته ورساوه او د پښتنو د تولنیز ولسولیز گوند د مشرانو د جرگی د گوند دغړو او نورو پښتنو له خوا نه د فرانکفورت د هوائی ډگر نه د پیښور په لور په ډیره درناوی رخصت کړای شو.



د دری ونړمشر اجمل خټک شرکه عالی ښاغلی محمود کبیرستوری او جلیل لیوالکینږی



**پیښاور:** د پښتونخواد قومی پارتی مشر خان لالا محمدافضل خان په پښاورکښی په یوه غونډه کښی وویل چی زمونږ گوند وائی چی پښتون یو قوم دی. پدی کښی کرښی نه منو. دادری تړکړی چی قومی دی که دا د چاخوښه ده اوکه د چا نه زمونږه پښتونخواده. یوملت دی او یو قام دی. حق خوداراديت د دنیاداولسونو بنیادی حق دی د پښتون هم حق خوداراديت بنیادی حق دی. مو نږ د پښتو ن قام د پاره حق خود اراديت او پخپله خاوره کښی خپل اختیار غواړو.



خان لالا محمد افضل خان

**کولن:** د پښتنو کلتوری تولنی په کولن کښی د پښتنو ماشومانو د روزنی د پاره یوښوونځی (سکول) جوړ کړیدی. دغه ښوونځی د ری تولگی لری چی په دوو تولگیوکښی پښتنو ماشومانو ته د پښتو ژبی درس ورکول کیږی او په بل تولگی کښی پښتانه د جرمنی (المانی) ژبی زده کړه کوی.

د پښتنو د کلتوری تولنی مشر محمد شیرین گردیوال وویل چی داپریل په میاشت کښی د پښتنو کلتوری تولنه یو کلتوری ماښامی جوړوی چی نامتو پښتانه سندرغاړی ورته میلمانه شویدی. ده زیاته کړه چی دغه ماښامی ته ډیرو پښتنو د خپل راتگ ژمنه کړیده. د پښتونخوا د قومی پارتی سکرتر قیصرخان ورته هم راځی. د پښتنو د تولنیزا ولسولیزگوند لوی منشی هدایت الله بنگښ پدی نښتون وویل چی د پښتونخواد قومی پارتی د سکرتر قیصرخان سره د پښتنو



د تولنیزا ولسولیزگوند (د پښتنود سو سیال ډیموکراتیک پارتی )لیدنی کتنی اوهم د جرمن د ځینو سیاسی سرتیوبونو (شخصیتونو) سره د پښتنو د تولنیزا ولسولیز گونداو قیصرخان گډی کتنی به منځ ته راشی .

**کولن:** د پښتنو د تولنیزا ولسولیزگوند مشرډوکتورکبیر ستو ری وویل چی د پښتنو ویش په سیمه کښی سولی او امن ته خطره پیښه کړیده د پښتنو یو خپلواک دولت (ستیټ) چی ټول پښتانه پکښی یوځای شوی وی په سیمه کښی د سولی او امن تضمین کولی شی ده زیاته کړه چی پښتونولی چی د پښتنو د ملت پښتونخوا بنسټ یوعنعنوی ډیموکراتیک سیستم دی د پښتنو د غیرو ډیموکراتیکو گرځیدلی شی چی په سیمه کښی د نا ارامی او بی ثباتی راولی مخه نیولی شی . او افراطی ځواکونو چی د نړۍ په اوسنی سیاسی اوتاریخی پړاو کښی چی د قامونو د یووالی اوازادی ډیوی پکښی بلیږی پښتانه هم د ازاد خوداراديت د لاری خپل ملی وحدت اوخپلواک دولت (ستیټ) غواړی. زمونږ گوند چی د پښتون اولس داراد ی ممثل اود علا ئقو نماینده دی د پښتونخوا ملی اوجمهوری (ډیموکراتیکو) گوندونو ته غږکړیدی چی په یوه ډیموکراتیکه جبهه (محاذ) کښی سره راغونډ اود پښتون اولس دارادی سره سم د پښتنو د یووالی اود پښتونخواد خپلواکۍ چغه په زوره کړی .



ستوری

**نا روې:** د پښتنو د ټولنيزا ولسوليزګـوند د نا روې د څانـګې مشر محمد نا در سرشـار د ګوند د مشرانو د جرګې پـه غونـډ ه کښې د ګډ ون د پاره جرمـنی ته راغلی و د ګوند ی اند يوالانو سره د نـړې اوپه تيره بيا د افغانستان د حالاتو په باره کښې د نظريوبدلون وکړ . محمدنا در سـرشـار چې پخپله د کونړد ولا يت د کـرالی د کلی اوسيد ونکی د ی زمونږ خبر يال ته د پوښتنی په ځواب کښې داسی وويل زه په ۱۳۵۷ هـ کال کښـی د ليندی د مياشتی په ۲۵ نيټـه د کابل د د همزنګ او بيا د پل څـرخـی په جيلونو کښې بندی وم اوخپـله



محمد نادر سرشار

د کـرالی په پيښـه کښې په کونـړ کښې نه وم . دا چې د غې غمنا کـی پيښی ځما د کورنی د ۶۰ تنو څخه زيات کسان ځما د سپين زير ی پلار قـاضی ملك محمد سلا م چې يوقومی سپين ږيرې و په ګډ ون پـه شهادت رسيدلی د ی غواړم په دغه درد وونکی پيښه يولږ څه رڼا واچوم . د دغـه غمناکی پيښی په وخت کښې صاحب جان صحرائی د شرقـی زون امرود کونړونود ولا يتی کميتی د ځينو غړو اوپوځی افسرانو خاصتا د ۶۹ غـنډ قوماندان عبدالحق او ٤٤٤ کماند وقوماندان صادق عالميار په ۳۱ دوری د مياشتی ۱۳۵۸ کال د کونړ د مرکزد اسعدا باد د ښار تړلی د کـرالی د څلورسوه څخه زيات کسان چې سپين ږيری ځوانان اوکوچنيان پکې و د سهار په نهه بجو په داسی حال کښې چې پخپلو ورځنيو چاروبوخت و د مـارش اومـيتـنګ پـه پلمـه د کورونو څخه راويستلی او بی د کوم جرم اوګناه څخه ئـی په ډله ايزه توګه وژلی او بيا په داسی حال کښې چې زيات کسان ئې ژوندی و د بلډوزرو پواسطه د خاورو لاندی کړيد ی . اګرچې ماد جيل څخه د خلا صون وروسته د ببرك کارمل په وخت د دی پيښی عاملـيـو ته د سزا ورکولو لپاره ډيری هلی ځلی وکړی خونتيجه ئې ورنکړه .



Dr. Kabir Stori
President
Pashtoons Social Democratic Party (PSDP)
Höninger Weg 63
5000 Köln 51
Germany
Tel (0221) 3602472

کـولـن ۱۹۹۱/۷/۲۱

## د افغانستان د لانـجې د سـوله ايز حل نـو ښت

**ګرانو وطنوالو**

د دوو لسيزو نـږدې زمانه تيريږي چې د شوروی اتحاد خپل پوځونـه د افغانانو د مقاومت له کبله د افغانستان نه ويستلی د ی خو جـګړه پـه داسی حال کښې چې اوس د نـړی والـو له کبله د افغانستان نه ويستلی دی خو جـګړه پـه داسی حال کښې چې اوس دنـړی والـو د پـامـه وتلی ده نـوره هم مخ پـه وړاندې روانـه ده .

د پښتنو ټـولنيز اولـسوليز ګـوند د ډيری مودی راهسی پدی نظريـه د ی چې د افغانستان ربړه په پـوځی توګه حل کيدلی نه شی بلکی يوازی د سوله ايزی سياسی لاری د حل امکان لری . پدی هکله مـونږ خپل نوښتونه څـوځله نړی والو تـه وړاندی کـړی د ی .

پدی منځ کښې د ملګرو مـلتو د مـوسسی عمومی منشی پيرس دې کولير ( Perez de Cuellar ) هـم د غـه نتيجې تـه ورسيد او د ۱۹۹۱ عيسوی کال د مـای د مياشتی په يوويشتمـه نيټـه ئې د افغانستان د ربړی د سوله ايز حل د پاره ئې يو پنځـه ټـکی پلا ن پـه نيويارك کښـې وړاندی کـړ .

د پښتنو ټولنيز اولـسوليز ګـوند نـه يوازی د دغـه پلا ن هـرکلی کوی بلکی د عـملی کولو هڅـه ئـې هم کوی . د دی د پاره لـومـړی يـو نـړی واله غـونډ ه (کـنـفرنس) اوبيا د افغانانو د مـلـی پخلا يني يوه غـونډ ه (کـنفرنس ) ضـروری د ه .

۱) پـه افغانستان کښې د سولی د منځ تـه راوستلو د پاره د نـړی والی غـونډ ی د اجـنډ ی د پاره مـونـږ دا لانـدی ټـکی وړاندی کـوو .
— د پـرد يـو د لاس وهـنی او افغانانو تـه د وسلو د ليږدولو بـندونـه
— د افغانانو د خـود ارادیت حـق تـه پـه درنـه سـترګه کتل چې خپل راتلونـکی بـخـپله ازاد سـمبال کـړی .
— د افغانستان د د ننی امـن د پاره د ملګرو ملتو د مـوسـی د سولی د پـوځونو ميشته کول
— د کـډ والو پـه بيرتـه تـګ او د افغانستان پـه بيابادی کښې مـرستـه کول
— د يوی جـرګه ګړ جـو ړول چې د دی غـونـډ ی (کـنـفرنس) پـريکړی وڅاری اوعملی ئې کړی

۲) د افغانانو د مـلی پخـلا ينی غـونډ ه (کـنفرنس) چې پـه لانجـه کښې ښـولی ښـرخه والـی د لی پکښې ګـډ ون وکـړی د افغانی دود او عـنعنـی سـره سم د يـوی منـځـګړی جرګـی پواسطه منځ تـه راتللی شی .

د غـه منځـګړی جـرګـه بـايـد ه د ه چې د ملګرو ملتو د مـوسسی پـه سپارښت سـره د لـری پښتـونـخـوا (ازاد قبائـل او صوبـه سرحد /پاکستان ) د پښتنو مـشـرانو نـه جوړه شی ځـکه چې د وی د يـوی خـوا پـه لانجـه کښې ښـرخـه نـلری او پدی توګه بی پـلوه د ی اود بلی خـوا پـه لانجـه کښې د ښـرخـه والو د لو سـره ګـډ تاريخ ، کلتـور او عـنـعـنه لـری .

د غـه د ول د منځګړ يتوب جـرګې پـه افـغـانی ټـولنـه کښې پـه لانجـه کښې د برخه والو د لـوتـر منځ د خـبرو ، پخلا ينی اود ښـمنی د لری کـولـو د پاره د يـر پـو راهـی پـوه ازمـايل شـوی وسـيـلـه د ه .



د افغانانو د ملی غـونډ ی (کـنفرنس) د اجـنډ ی د پـاره مـونـږ لاندی ټـکی وړاندی کوو
— داوربند پـه هکله مـوافـقه
— پـه افغانستان کښې د د يرګـوند يزه پـارلمانی د يموکراسی منځ تـه راوړل
— د ټـولو سـياسی بنديانـو خـوشـی کول
— د نـوی اساسی قـانون د تـاکـی (انتخاباتو ) اوګـوند ونو د قانون د مسود و د جوړولـو د پاره د يـوی جرګه ګی تـاکل
— د يـوه کال د پاره د ټـولو ګوند ونـو يو مـوقـتی حکومت جـو ړول

مـوقـتی حکومت تـه د ی دا زمـه واری وربخـاره شی چې د نـوی اساسی قـانون د تـاکـنی اوګوند ونو د قانون د مسلو د پاره يـوه نمـاينده لـويـه جـرګه راوغواړی اوشـرهـغی وروسته د شپږو مـياشتو پـه د ننه کښې د پـارلـمـان تـاکـنـه وکـړی اوپد ی تـوګه د قانونـی حـکومـت جـو ړول امـکانی کـړی .

مـونږ د تـاسی نـه هيله کوو چې د خپل نفـوذ نـه کار واخـلی او د ملګرو ملتـو د موسسی د عـمومی منشی د سـولی د پلا ن د عملی کولو د پاره زمـونږ د نـوښت مـلاتـړ وکـړی او پـد ی تـوګه پـه افغانستان کښې د نـوری وينی تـويـونی مخه ونيسی


په درنـاوی

د وکـتور کـبير سـتـوری
د پښتنود ټولنيز اولسوليز ګوند مشر

**يـادونـه**

د يـوشمـير مـلګرو مضمـونونـه چې مـونږ تـه رارسيدلی د ی او پـدی مجله کښې چاپ نـکړای شو پـه بله مجله کښې به چاپ شـی او هم د عطاء الله شيرزی نـه خوښښنـه کوو چې د دی مجلی د تـايپ چاري ئې سرتـه رسولی د ی

د پښتونخوا د خپرونـی جرګه




که سپوره وی که پـوره وی پـه شـريـکه بـه وی
( بـاچـاخـان )

*Das Brot, ob belegt oder trocken, wird unter allen gemeinsam aufgeteilt (Batscha chan)*

*Buttered or unbuttered bread will be common (Bacha Khan)*